۱ - هرگاه کلمه هاي موصوف ومضاف به (آ، و، ه) ختم شده باشد درحالت اضافت یك (ي) به آن مي افزایند که بجاي کسرهء اضافت بکارمي رود ؛ مانند : صداي بلند، نواي آبشار، سبوي شکسته ، بازوي کریم ، (خانه ي قشنگ ، شانه ي پهن) . در مورد مثال اخیر هرچند درگذشته وهم امروز بالعموم همزه مي نوشتند ومي نویسند وبهمین شکل مورد موافقت اکثریت مردم است، لاکن اگرتقلید کورکورانه کنارگذاشته شود، همین شکل املایي (خانه ي قشنگ، شانه ي پهن) بااصول زبان دري مناسبترمینماید .
۲ - امااگر کلمه به (ي) ختم شده باشد، درحالت صفت واضافت (مانند کلمه هاي مختوم به کانسونتت ها) درتلفظ آن صوت (ا) میآید ودرنوشتن چیزي افزوده نمیشود؛ مانند :چراغ دستي رستم ، کشتي بزرگ .

اف دا ویرونه او ماتمونه!

محمدعبید صافی

اخبار، رادیو، تلویزیون او خلك هره ورځ دافغانستان دتبـــاهي، جنگونو، وژنو ورانیواوهجرتونو خبري کوي یوه ورځ هم دانـــه آوریدل کـــیږي چي دافغانستان په فلاني ځاي کي مکتب ، مدرسه اومسجدجوړشو دفلاني ولایت مهاجرین بیرته خپلوسیمونه لاړل اویه فلاني ځاي کـــي مخالف اومتخاصم قوتونویوبل تـه دسولي اووروري غیږه ورکړه ،بلکې هـر ماښام اوهرسهارداسي زړه بدوونکي او غموونکي خـــبرونه اوریدل کیږي چي دافغانستان دمسلمان ولس په ټمي زړونودمالگي اومرچکو دپاشي کارکوي ، هره ورځ نوي نوي غم اونوي نوي ویرسراوچتوي بودردلانه وي پاي ته رسیدلي چي له پاسه بل غم انبارشي چیرته دجنگونو په سرولبوکي دماشومانو دستي کیدوخبره اوچیرته دلوږي اوتندي لـــه لاسه دمظلومو افغانانو دمرکیدو خـــبره ، چـــیرته دکلیواوکورونو دورانیدو خبره اوچیرته په لاره کي دیختي او لوږي دلاسه دمهاجرشویو خویندومیندو اوسپین زیرو دساه ختوخبره ، چیرته پرمانیونودهغو تنکیوغریت وهلوهلکانو دزخمي کیدو خبره چي دخس اوخاشاك دټولولو لپاره ښاپرواومیرونه ورځـــي داتـــولي خبري داسي دي چي پـــه اوریدوسره ئي دهرباضمیره افغـــان زړه دردیـــږي اوزوریږي .

ظلم له پاسه ظلم لاداچي اوس پاکستان هم دهغو کړیدلیو اوردېدلیو افغانانو له قبلولو څخه انکارکړیدي چي دجنگ له ساحي اوسیمي نه پاکستان ته پناه راوړي، دسترگـــو لیدلو اوخبري سرچینوڅخه دامعلومه شـــویده چي دپاکستان حکومت لـــه افغانستان نه راتلوونکي افغاني کډي بیرته گرځوي طورخـــم، میچـــني اونورو پاټکونو کي ولاړه ملیشه په پوره بي رحمي سره په کډه راغلي نوي مهاجربیرته گرځوي او دریوران هم ددغوسورلیوله باورولو څخه انکارکوي، دپاکستان ددي عمل اوپالیسي له کبله افغانان لـــه یونوي مصیبت اوکړاوسره مخامخ دي یوطرف ته خپله خـــاوره وربـاندي سورتنور گرځیدلي اوبل طرف ته گاونډي هیواد پاکستان هم ددوي له لاسه نیوي اوپخپل وطن کي له قبلولوڅخه انکاري شوي، یقیناً چي دادجگړه ځپلو افغانانو لپاره له زغم نـــه وتلي امتحان دي ، دافغانستان ناموس پـــه برښنه فضاکي په سرکونو اومیدانونوکي دذلـــت اوبي حیایي شپي سباکوي دکوږې مـور، خورا ومیندو پـــه خاطر سروړکول چي دافغانانو ملي اومذهبي عنعنه وه نن په دنته اوبهرنیوهیوادونوکي دبې پرده گي اواحتیاجي ژوند تیروي نن دهغي افغان میرمن لـــه سرنه دپردي اوحیا پروني کـــوزیـــږي چي ځوارلسو لکو افغانانو دهغي دساتني لپاره خپل سرونه نذرانه کړي وو، لیکن دپرافسوس چي دشهیدانو وینې تـــه نن دااقتدار لیونیان په کم نظرگوري اوداخپال تکړي چي آخریه کومه گناه خپل دي مجاهد ملت ته دومره لویه سزاورکوي ، دقره باغ ، کلکان ، استالف اوشکردري غیرتي اوبهادرولس چي ځوارلس کاله لي دروسانواوکمونستانو پـــه خلاف تاریخي اوته هریدونکي جهادئي کړیدي په کومه ګناه دتوپونو، راکټونو ، ټانکونو او درنو بمباریو په بي رحمو لمبوکي سوځوي؟ آخرددي مجاهدو بهادرولس خویندي میندي مورگاني او یتیم بچیان ئي ولي له خپلوټاټوبو څخه هجرت کولو ته مجبوروي ؟ ولس هم حیران اودریان دي چي په جگړه کي اخته ولي په څه وجـــه خپل بي گناه ولس باندي دومـــره سخت ظلم اوجفاکوي؟ ولي کورونه اوباغونه ئي وراتوي ولي له کورونه بي بي کوره کوي ولي دگدایي ، بي پرده گي ذلت اوخواري ژوند تیرلوته مجبوروي ؟ آخرملت چاته خپل فریاد وړاندي کړي، له چاته انصاف وغواړي اوچاته ووایي چي موږلدي مصیبت اووژني نه خلاص کړي ؟ حقیقت دادي چي له هرڅه نه مخکي دااحساس پخپله درگیرو ولوته پکاردي ، هغوي باید دملت آه فریاد اوویرونوته-دزړه په سترگوتوجه وکړي اودزړه په غوږونو ئي واوري داچکه چي دوي دملت بچیان دي . ملت اوخاوره پردوي حق لري چي دملت حیا، ابرو، ژوند عزت اوناموس ئي وساتي، دوي دي پدي خبره غوروکړي چي دوي دجنگ اوجدل له لاري خپل ملت خاوره اوآزادي ته څومره نقصان ئي رسولي ؟ تراوسه پوري څومره افغانان ئي دمرگ ، لوږي تندي ،بوهي اومحتاجي کندي ته ورتیل وهلي ؟ څومره خویندي میندي دکوندتوب داوسپني نیئي چیچلوته کینښولي ؟ دڅومـــره باحیا اوباعصمتوافغاني پیغلو ژوندئي دسوال اوگداي په غموتوبدل کړي؟ پدي مترقي اوسایښسي دورکي افغانستان ئي دژوند په ساحه کـي څومره وروسته پرېښي دي اوملت له څومره بدحالي سره مخامخ دي؟ داتولي خـبري او پوښتني داسي دي چـي د هر افغان ضمیرته دغور او فکرېلته ورکوي او احساس ورته ورکوي چي دخداي په خاطرتوریدي مظلوم ملت رحم وکړي ، داپرهرپرهرهیوادتورمه ورانـــوي ، ددي کړیدلي اوزوریدلي ولـــس پرزخمي زړونودمالگي پئـي مـه لگوي، دخپل ذاتي غرض لالچ اوخودخواهي په ژبغراندي بئي کي ملت مه سوځوي؟ له تاریخ نه عبرت واخلي اودهغو خلکو انجام ته وگوري چي داقتداریه نشه کي پخپله هم دتاریخ عبرتناك داستان وگرځیدل اوملت ئي هم له بدحالي سره مخامخ کړ داقتدارلیوني داودخان څـــه شو؟ ددین قوم ملت اوناموس دښمنان ترکي، امین، ببرك او نجیب څه شول، هغوي نن چیرته دي ؟ دهغوي تخت اوبخت څه شو؟ بي له شکه چي هغوي دحقیقي بادشاه مالك الملك حضورته ورغلي اوهلته دخپلو کړوړو حساب اوکتاب ورکوي، هغوي داآرمان کوي اي کاش مور له سره پیدا شوي نه واي، مورته خوخپل باچاهي اومال ودولت هیڅ گټه ونه رسوله له موږنه خودخپل دگوند ملگروهیڅ عذاب کم نکړي شو هغوي خوپخپل خولوکي دوب دي، داهرڅه فناکیږي ددنیاپه ژوند اعتماد اوبروسه نده پکار، دافغانستان په زرگلن تاریخ کـي ډیري ککري خاوري شوي، دبرداقتدار لیونیان په تور لحد کي دچینجوخوراك شوي مگر افغانستان بیاهم ژوندي دي اوهیڅ چاله ځانه سره نـدي وړي، په جنگ کي ښکیلي ولي بایـــد له تیرتاریخ نه دعبرت درس واخلي اولـه دنیا سره دومره مینه ونکړي چي هم خپل آخرت تباه کړي اوهم دنیا، دفراست پوهي اوعقل خبره داده چي درگیري ولي دالله جل جلاله رضـــا، داسلام سرلوړي اودهیواد ښیگڼه په نظرکي نیولوسره خپل ضداوسختي نه لاس واخلي، پخپلوکي سره ټول راجرگه اویوبل ته دوروري اوصداقت لاسونه ورکړي اوبوخ نیت دي وکړي چي له نن نه پس بـه خپل ټول قوت استعداد اوکار دا...م سرلوړي، دملت خوشالي او دهـــیواد دښیگڼي لپاره په کاراچوي .

\#\#\#

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۲۹۵) سال نزدهم یکشنبه (۹) جدی ۱۳۷۵

قیمت یك شماره (۱۰۰) افغانی (۳ روپیه)

نبوی لارښوونې

له حضرت جابر(رض) نه روایت دي چې نبوي جومات ته چاپېره ځه ځاګه خالي شوه نودبنوسلم قبیلې خلکو داارادہ وکړه چې جومات ته نژدې کله راوړي . حضور (ص) خبرشوچې بنوسلم جومات ته نژدې کله راوړي نوهغوي ورته وفرمایل : زه خبرشوي يم چې تاسوجومات ته نژدې کله راوړي . هغوي عرض وکړ چې هو، موږ، دانیت کړي دي . حضور(ص) ورته وفرمایل : اي بنوسلم په خپلوکوروکې اوسئ . ستاسې داقدمونه - (جومات ته تله راتله) پــــه نیکې کې لیکلې شي. (داجمله حضور(ص) دتاکید لپاره دوه ځله وفرمایله) هغوي وویل : اوس موږ په کله راوړلو راضي نه یو .

(مسلم شریف)

احکام دین خودرابیاموزیم

بیان نماز جمعه

فضیلت روز جمعه :

رسول اکرم (ص) ارشاد فرمودند :

« دردنیا عصر آمدن مابعدازهمه است، لیکن در روز قیامت قبل ازهمه (درجنت) رفتني هستیم . آن ها (یهود ونصاري) را ازهمه اوله کتاب هدایت ، و مارا بعدازایشان دادند . وبرهمه آنها احترام جمعه فرض گردیده بود، لیکن ایشان برآن اختلاف کردند، وخداوند مارا براستقامت درآن توفیق بخشید، لهذا همه اینها ازماعقب هستند .

یهود فرداي جمعه (شنبه) ونصاري پس فردا (یکشنبه) را احترام مینمایند . »

پیامبرگرامي (ص) رسیدگي وترجه به جمعه را از روز پنجشنبه آغاز مینمودند و میفرمودند :« شب جمعه شب سفید وروز جمعه روز روشن است . » امام غزالي (رح) میفرماید:« از فیوض وبرکات روز جمعه ، درحقیقت آن مؤمني مستفیدمي گردد که درانتظار آن دقیقه شماري مینماید، وآن غافلي نهایت بي نصیب است، که برایش معلوم نباشد، که چه وقت جمعه میآید . وصبح ازمردم سوال میکند، که امروز چه روزي است . »

پرافغانستان د روس دیرغل کلیزه د (پیبی)

کمپ داتحاد اسلامي اوثقافت اسلامي لیسو دادارو له خوا جوړي شوي دي ، داتحاد اسلامي افغانستان داجرائیه شورا غړو مولانا قیام الدین کشاف ، استاذ محمدیاسر، قوماندان توریالي «همت» اوددغه لیسو مسئولینواو استاذانو دموضوع په اړوند خبري وکړي اوزموږ دروانو ستونزو اوکړاوونو عاملین یې روسان وګڼل . وپناکوونکو همدارنګه په جګړه کي له ښکیلو لوریو څخه وغوښتل چي دخپل مینځي خبرواترو اومذاکراتو له لاري دهیواد روانې غمیزې ته دحل لاره ولټوي .

همدارنګه په هغه غونډه کې چې دیبی کمپ دحضرت علي (رض) په جومات کي د «تحریك خلافت اسلامي » له خوادجمعي په ورځ پـــه همدې مناسبت جوړه شوي وه ، پرتوړو سربیره ددغه تحریك مشر مولوي روح الله « خلافت یار» اوقوماندان تورپالي «همـــت » خبري وکړي .

پداسې حال کي چې دروسانو دیرغل عوامل او وروستیو پیښوته یې کتنه وکړه ، ځوانان او نوي نسل یې دې پیښې ته پاب خپلو مسئولیتونوته متوجه کړل .

پدې غونډه کي مولوي « خلافت یار» وویل : تحریك خلافت اسلامي افغانستان یو آزاد او غــیر وابسته پولتیزدعوتي سازمان دي، چې هــدف یې دځوان نسل اسلامي روزنه اوپالنه ، داسلامي دعوت خپراوې او په افغانستان اونړۍ کي داسلامي خلافت ټینګښت دي .

ایران دورجدید

برای پایان یابی درگیری های کنونی این کشورفراهم آورد. که نزدیك ساختن دیدگاههای جناح های مختلف افغان در زمره همین مساعی مسالمت آمیز ایران محسوب می گردد.

رادیوتهران راجع به تحولات اخیر درافغانستان وسفرعلاوالدین بروجردی معاون آسیا و اقیانوسیه وزارت خارجه ایران به شمال افغانستان تبصره کرده سفرنامبرده را آغازگردورجدید فعالیت های دیپلوماتیکی تهران درافغانستان توصیف نموده است .

تبصره خاطرنشان ساخته که این مساعی در گذشته بامرفقیت های همراه بوده اما تصرف کابل بوسیله طالبان تلاش های مذکور را ناتمام گذاشت .

ایران معتقداست که توسعه وگسترش مناقشات یکپارچگی وتمامیت افغانستان را به مخاطره انداخته ، صلح و ثبات درمنطقه را تهدید می کند .

رادیو ضمن تبصره خویش می گوید : تهران همواره بر حفظ استقلال ملی وتمامیت ارضی افغانستان تاکید کرده ، هرجناح داخلی ویا خارجی ایکه بر ادامه جنگ در این کشور اصرارمی ورزد ، درواقع اشتباه بزرگ وجبران ناپذیری را مرتکب می شود .

تبصره افزوده که افغانستان متشکل ازاقشاروملیت های مختلف بوده با توجه به ترکیب قومی انحصار طلبي برخی جناح های افغان برای حل بحران این کشور چاره ساز نمی باشد ، واین امر ضروری است که حکومت قابل قبول برای تمام گروههای سیاسی افغانستان تشکیل گردد.

"شش جدی" ممثل

نظیری درتاریخ جهان ازخود تبارز دادند.

آنچه هم اکنون درافغانستان می گذرد، نتیجه تجاوز ارتش سرخ شوروی سابق براین کشوربوده بافرارسیدن روزششم جدی ، زخم های افغانها تازه شده مظالم ووحشیگری های بیدریغ متجاوزان را درخاطره های آنها بیاد می آورد .

رادیو پاکستان درتبصره خصوصی خود راجع به سالروز این تجاوز تنگین اعلان داشت که مقاومت وپایمردی افغانها نه تنها روس هارا مجبور به خروج مفتضحانه ازافغانستان گردانید بلکه خود این کشور پارچه پارچه شده به جمهوریت های مستقل جداگانه تقسیم گردید .

مسلمانان جمهوریت های آسیای میانه از سیطره امپراطوری سرخ سابق رهایی حاصل نموده وبسوی آزادی کامل گام بردارمی باشند .

تبصره افزوده که این روز را افغانها محکوم می کنند روز ششم جدی اتحاد ویکپارچگی افغانها دربرابر تجاوزگران خارجی را به اثبات می رساند ، وقتی افغانها ابرقدرت بزرگ جهان را بزانو درآورده می توانند، چـرا حالاقادر به رفع اختلافات وکشمکش هــای ذات البینی خـود نمی باشند که ازچهارسال بدین سو دامنگیر آنان هست .

افغانها درآنزمان برعلیه متجاوزان همدست ویکپارچه شده کشورخودرا ازیوغ استبداد آنها آزاد ساختند چرا حالا دست برادری وهمکاری بایکدیگر نمی دهند که مداخلات خارجی را درکشور خویش قطع نموده زمینه رابرای برقراری صلح وثــبات دایمی و اعمارمجدد این کشـــور جنگزده فراهم گردانند .

شیخ آصف محسنی

داری نتایج درغیرآن عواقب وخیمی را برای این کشوردرقبال خواهد داشت .

رهبرحرکت اسلامی افزود که افغانها علی الرغم ادامه تشنجات در کشورشان ، همدوش باملت ایران برضد امریکا، مقاومت وایستادگی خواهند کرد .

وی علاوه کرد که ما آماده ، همکاری با کشورهمسایه خود ایران بوده خود رامکلف به دفاع از ارزش های والای اسلام ومسلمین می دانیم .

اعلان

پوهنتون امهات المؤمنین برای سال جدید تحصیلی خویش در پوهنځی های طب، سایئنس ، شرعیات، ادبیات ، علوم بشری وتعلیم تربیه محصل میپذیرد.

ثبت نام ازتاریخ ۲۵ /۹٦/۱۲ آغاز و الی تاریخ ۹٦/۱۲/۳۱ ادامه دارد . روزاخذ امتحان کانکور بعداً اعلان میگردد .

آدرس :فیز DI-1 سرك ۳ خانه ٦۳ حیات آباد-پشاور

اعلان فاتحه

مدیر پاینده محمد برادر، انجنیرصالح محمد برادرزاده ، جارنوال عبدالوهاب کاکر، مولوي عبدالغفار «صائم» کاکر ، شمس الدین کاکر، قاضي محمدعمر « عزیزي » کاکر، داکترعبیدالله عزیزي کاکر و محمد هاشم کاکر پسران ماما، جمال عبدالناصر « عزیزي » کاکر کارمند روزنامه سهار وصوفي عبدالصمد کاکر، خاله زاده ، نسبت وفات همشیره مدیرپاینده محمد به اطلاع دوستان مي رسانند که فاتحه مرحومه روزیکشنبه ۱۳۷۵/۱۰/۹ ازساعت ۲ تا ٤ بعدازظهر درمسجد جامع امام محمد شیباني واقع نصرت مینه شششو گرفته مي شود .

تصریه اسلامی

مسلمانان فلسطینی را حل نکرده ومسلمانان راازادامه مبارزات شان برحذر .یهودیان متجاوزبازنخواهد داشت .

سخنگوی نهضت اسلامی حماس افزود که حماس وسایر احزاب وسازمان های اسلامی متعهد به ادامه جهاد برعلیه رژیم غاصب صهیونست بوده ومبارزات خویش تاآزادی کامل سرزمین های اشغالی ادامه می دهند.

دورتازه گفتگو

قرارگزارش رادیــو ایــران نظروف وزیرخارجه تاجکستان با اعــلان این خبرگفت براساس توافقنامه امضا شده بین امام علي رحمانوف رئیس جمهور وسید عبدالله نوري رهــبر اتحــاد مخالفان تاجکستان یك کمیسیون آشتي ملي دربن کشور تشکیل میشود که ریاست آن به عهده یکي از اعضاي اتحاد مخالفان خواهد بود .

وزیرخارجه رژیم تاجکستان گفت : تعداد اعضاء ، شــرح وظایف وحدود صلاحیت این کمیسیون ونیز چگونگي مشارکت مخالفان درحکومت درمذاکراتي که از ۱٦ جــدي درتهران برگزارمیشود معین خواهد شد .

ایران

ایران براي حل مشکلات جاري افغانستان ، کشور اسلامي همسایه ماموروت گرفت واین سیاست دنباله سیاست دائمي ما تاحل مشکلات کشور اسلامي ، همسایه و به عــنوان وظــیفه اسلامي وهمسایگي درآینده نیز ان شاء الله ادامه خــواهد یافت .

ویافزود دربن مسافرت با استادربانی ،انجنیرحکمتـیار، اســتاد خلیلي، جنرال دوستم ، سیدمنصور نادري، جاوید، محقق، کاظمي دیــــدار نموده وپرابعاد مختلف بحران جاري بحث وتبادل نظر به عمل آمد ومراتب نگراني ایران ازوضعیت جاري افغانستان با ملاقات شونده گان العان شد و براین نکته تاکید گردیدکه وضعیت داخلي افغانستان وجنگ هاي جاري بــه ضـــرر ملت افغانستان وبه ضررکشور افغانستان است وامکانات باقي مانده این کشور را به تدریج ازبین میبرد وافغانستان رادرصحنه منطقه ئي وجهاني به یك کشورضعیف تبدیل میکند واین چیزي است که بـه زیان ملت افغانستان است . بروجردي افزود: ایران علاقمند است که نقطه پایاني بــه این بحران تاسف باردرمنطقه گذاشته شود وآمادگي دارد براي هرگونه تلاشي که بتواند کمك کند .

وي گفــت تمامي کـــساني که دربن سفرباآنها ملاقات شد براین نکته اذعان داشتند که جنگ درافغانستان به ضررملت افغانستان است وعلاقه مندبودند که دریك تفاهم سیاسي این معضله حل شود والبته بر این نکته نیز تاکید مینمودند که دربرابر هرگونه حمله نظامي وتحرك نظامي پاسخ قاطع خودشان ارائه کنند .

معاون وزارت خارجــه ایران افزود : آنچه که درافغانستان یك ضرورت است این است که همه اصل محوري راپهذیرند که جنگ راه حـــل ایــن بحران نیست وبراي حل این معضله باید به مذاکره روي آورد وتفاهم سیاسي رابه عنوان مبناي حل مشکلات جاري پذیرفت .

وي درپاسخ بـــه این سوال که آیادرنظردارید که باطرف دیگر هم مذاکره داشته باشید ویامذاکرات صورت گرفته یاخیرگفت : از طرف ایران هیئتي به هرات اعزام شد وباطالبان کـــه درنیمي از افغانستان حضوردارند مذاکرات مهلبي به عمل آمد ومایپوسته این سیاست رابه تشویق طالبان بــه پایــان درگیري ها وپذیرفتن اصل حل مشکلات ازطریق سیاسي وترك سیاست جنگ به عنوان یك سیاست دردستورکارخود داشتیم ومشوق طالبان بودیم امیدواریم که روزي این سیاست را ازطرف طالبان درصحنه عمل شاهد باشیم بعید نیست درچنین وضعیتي مامیتوانیم امیدهــاي بیشــتر صلح درافغانستان داشته باشیم .

مطابق امضای قرارداد جدید ، انتظار می رود بیش ازهشتاد فیصد از اداره امور شهرالخلیل که در کرانه غربی رود اردون واقع است به پولیس اداره عرفات تحویل داده شده نظامیان رژیم صهیونست این شهر را ترك کنند.

پرافغانستان

دشهادت خبریال ربوټ راکوي چې غونډه کي چې دسهاردنه نهه بجو په شااوخواکي دقاري عبدالهادي له خوا دقرآن عظیم الشان دمبارکو آیاتوپه تلاوت پیل شوه ، په سل گونو محصلینو، مېښلمینو، دنصرت مېنې اوسېدونکو اوحزب اسلامي داجرائیه شورا او مرکزي شورا گڼوغړو دغونډې ترافتتاح وروسته دحزب اسلامي داحتساب کمیټي رئیس اوامام محمد شیباني دجامع جومات خطیب مولوي شیرآقا هــر اړخیزه وینا وکړه . دروسانو یرغل، دهغې عوامل اواثرات او دمومنو افغانانو دجهاد پرځرنګوالي یې رڼاواچوله او دهغه ترڅنګ اودیسمو یادونه یې وکړه چې نن زموږ مظلوم ولس وروســـــره مخ دي .

ربوټ زیاتوي دمولوي صاحب شیرآقا تروینا وروسته دحزب اســلامي دامنیتي خدماتو مسئول جګتورن خــان محمد، دمحصلینوداسلامي تنظیم عمومي ناظم محمدخالد همتیار، محمــد آصف محبت ،داکتر ذبیح الله اوحمیدالله عزیزي په

آتش جنگی که از

مشکل داخلی شان را خودحل وفصل می گردانیدند ، و نباید زمینه برای روی کارآمدن کمونست ها چون ببرك کارمل، نجیب ، نوراحمد نور، اناهیتا راتب زاد وسایر سران دست نشانده مسکو فراهم می گردید .

مایوروف علاوه کرد که تجاوز ارتش سرخ اتحاد شوروی سابق در شش جدی سال ۱۳۵۸ درافغانستان منجربه ادامه جنگ هاوکشمکش هــا تازمان ظهور وحاکمیت فعلی طالبان گردید .

این جنرال روسی مدعی شـد که حفیظ الله امین از روس ها دوازده بار مطالبه کرده بود کــه قوای خود را به افغانستان اعزام بدارند امــا روسیه ازانجام این کار اجتناب می نمود .

وی تصریح کـــرد که اعزام قوا درآنزمان یك امرحتمی بنظرمی رسید، زیرا رقابت های امریکا و اتحاد جماهیر شوروی سابق درمنطقه وبسطح جهان به اوج خود رسیده بود .

مایوروف خاطرنشان کـــرد آتشی راکه اتحاد شوروی سابـــق آن زمان درافغانستان شعله ور گـــردانید شعله های آن تاپحال زبانه می کـشد و به اثرتجاوز ، خــــرد اتحاد شوروی ازهم پاشید و بـــه جمهوریت هـــای مستقل جداگانه تقسیم شد .

علاوالدین بروجردی

مذاکرات طرفین روی بررسی آخرین تحولات و رویداد هــای افغانستان متمرکز بوده است .

«بروجردی » طــی گفتگوهایش با خلیلی اظهارداشت : متاسفانه امکانات زیاد افغانها درگذشته بـــه علت ادامه درگیری های خونین داخلی به نابودی کشانیده شده است .

معاون آسیا و اقــیانوسیه وزارت خارجه ایران برضرورت موافقــت کلی تمام گروههای افغان روی حــل منازعه افغانستان تاکید نموده افزود که تنها ازطریق راه حـــل سیاسی می توان به درگیری هـــــای خانمانســوز کنونی درافغانستان پایان بخشید . بروجردی یاد آورشد که نایل شدن بـــه تفاهم وموافقت کلی میان جناح های مختلف افغان، بستگی به برآورده شدن حقوق تمامی اقشار و ملیت هـــای ساکن افغانستان دارد درغیرآن بحران کنونی نه تنها منتفی نشده بلکه اوضاع بیشتر متشنج خواهد شد .

خپل وار وینا وي وکړي او دروسانو دتیري دکلېزې دغندلو په ترڅ کي زموږ داوسنیوستونزو اوکړاونو اصلي عاملین هم روسان وبلل اوزموږ، دستونزو ترشایې دبهرني مداخلي جریان ته ګوته ونیوله .

همداراز دجهـــاد اومهجرت دوګر دووتنوشاعرانو سیدولي قاطن او غلام محمد ناخوان هم ددې ورځې په مناسبت خپل لیکل شوي نظمونه ولوستل . په پای کي دجدي دشپږمي پـــه مناسبت دافغانستان دمحصلینو داسلامي تنظیم پریکړه لیك ددې سازمان داجرائیه شورا غړي محمد نادر « ارمان » له خوا ولوستل شو چې دهغې په ترڅ کـي راغلي دي : زموږ په هیواد کي دتیرو دوو لسیزو خونړیو پیښو عاملین روسان دي . هرڅوك چي له روسانوسره دخپل اقتدار دبقا لپاره راشه درشـــه کـــوي، افغان ولس یې محکوموي اوډتاریخ شرم یې بولي . همدارنګه په پریکړه لیك کي ویل شوي دي : « په جګړه کي دښکیلو لوریو څخه غواړو چې دانحصارسیاست پرېږدي اودیوه واقعي نظام دجوړېدو په خاطر دملت رایې ته رجوع وکړي . »

ادارات مختلفه

توصیه کرده که طالبان دربرابر شهریان کابل ازدردوستی پیش آمده ، دوستانه باآنان برخوردنمایند برخی اززنان افغان به علتا اینکه درمؤسسات خارجی خیریه اجرای وظیفه می کـــردند ، بوسیله طالبان مـــورد لت وکوب قرارگرفته اند .

مسئولان سازمان ملل متحد می گویند که ازادامه برنامه های کمك رسانی خود درمناطق تحت کنترول طالبان احساس خطر وناراحتی می کنیم ، بناءً تقاضای ماازرهبران طالبان این است که دربرخورد خود دربرابر شهریان کابل تجدید نظرنمایند درغیرآن پروگرام امداد رسانی درجریان سرمای شدید زمستان برای افغانها منقطع خواهدشد.

دراین حال پوهنتون کابل بـــه همکاری سازمان ملل متحـد، آمادگی خودرا برای پیشــبرد کار تحصیلی سال آینده ابراز داشته است .

یکتن ازمسئولان پوهنتون کابل می گوید کـــه بیش از (۲۵۰) هزار کـــتاب علمی وتاریخی مربوط پوهنتون مجــــدداً جمع آوری شده ودراختیار محصـــلان قرار می گیرد .

مسئولان پوهنتون کابل علت تاخیر درفعالیت های تعلیمی پوهنتون را عدم موجودیت کدرهای علمی وبودجه سال تعلیمی دانسته از کـــشورهای خارجی مطالبه نموده کـــه پوهنتون را دراین راستا یاری رسانند .

د «دفاع شورا»

طالبانو پرخلاف په جګړو بوخت و . بل خوانن د ا فغانستان د دفاع عالی شورا مسؤلومنابعو شهادت ته د یوه مخابروی تماس په ترڅ کی دا خبره په کلکه رد کړه او ویی ویل چې د نومړي د نیونی لپاره یوه توطیه جوړه شوی وه ، خو ده وکولای شول له هغی نه ځان خلاص کړی . په چاریکار کی د دفاع عالی شورا یو مسؤل خبرځای شهادت ته وویل : هغه سړی چې طالبان پری د استاذ عبدالصبور«فرید» گومان لری دا«حاجی فرید» په نامه د هغه یو سرګروپ دی ءد ي د یوی خاینانه د سیسی په ترڅ کی د طالبانو لاس ته ورغلی دی .

بل خوا نړیوال خبری منابع د طالبانو د ویندویانو په قول په پرله پسي توګه د هغه د نیول کیدو خبرونه خپروی . همدارنګه په پیښور اوکابل کی د افغان ا سلامی خبری آژانس هم د طالبانو په لاس د استاذ عبدالصبور«فرید» داسیریدو په هکله رپوټونه ورکړی دی .

په تګاب ، چهاریکار او کندزکی د نظارشورا منابعو له شهادت سره د خپلو مخابروی تماسونو په ترڅ کی د ا ستاذ عبدالصبور فرید د وروو په قول د طالبانو ادعا رد کړی ده .

جګړه د «بګرام » په

هوایی ډګرته نژدې لوړی غونډی نیولی دی رپوټ وایی طالبانو د خپل ګرندی پرمختګ په لړکی وکولای شول د تیری یوی میاشتی څوټیا اوورکود مات کړی او د جګړی کرښه یی د کابل د شمال (٤۰) کیلومتری ته ورسولی چی اوس د طالبانو ځواکونه (۱۵) کیلومتره د بګرام له هوایی ډګرنه فاصله لری .

د بی بی سی رادیو د کابل خبریال چی د جنګ د لومړی کرښی څخه یی لیدنه کړی په خپل رپوټ کی وایی چی د بګرام په دوسرګه کی یی د طالبانو د مخالف ځواك ګن شمیر مړی لیدلی چی د جګړی په ډګرکی پراته وو .

د طالبانو منابع ادعالری چی دوی د دی جګړی په ترڅ کی د مخالفوځواکونو تقریباً (۲۰۰) تنه په اسارت نیولی دی همدارنګه جنرال عبدالغفورپنجشیری په ګډون یی د مخالفوګن شمیر افراد وژلی او (۱۰۰) تنو په شاوخواکی یی نور ټپیان کړی دی .

د طالبانو ویندویان ادعالری چی د دوی د اسیرانو په ترڅ کی یو پخوانی صدراعظم استاد عبدالصبور«فرید» هم دی خو د اخبرمستقلو منابعوندی تائید کړی .

د کابل د شریعت غږ رادیو دریوټ په اساس د قره باغ او استالف د سیمو د بیرته نیونی لپاره د مخالفینو دوه بریدونه له ماتی سره مخ او دمخالفینو (۷۵) کسان وژل شوی . همدارنګ دغه رادیو رپوټ ورکوی چي د «ه شنبی » د ورځې په جګړه کی یی له مخالفینونه لس چینه ټانکونه ، (۱۲) درنی ماشینګنی ، (۸) عرادی موټر، دوه میله زیکویو، ماشیندار(۵) میله توغندي ویشتونکی ، یو ضرب ۸۵ملی متري توپ (٤۵) میله کلاشینکوفه ، اوبوه اندازه مهمات نیولی دی .

بل خوا د دفاع عالی شورا مخابروی شبکی ادعالری چي د دوی ځواکونو د طالبانو(۵) عرادی ټانکونه او یو هلی کاپترالوتکه د بګرام د دوسرکی په ساحه کی راغورځولی دوی ادعالری چی جګړه د قره باغ او دبګرام د دوسرکی ترمینځ جریان لری . دغه منابع همدا رنګه وایی چی دوی (۲۲)تنه و سله وال طالبان سره له دو عراده موټرونیولی دی .

بل خوا د دفاع د شورا الوتکونن دری ځله د کابل هوایی ډګر او دهغی د شااوخوسیمی تر بمباری لاندی نیولی خو طالبانو په ادعا دغه بمونه اکثرا د کابل د هستوګنو پرسیمو غورځیدلی او د (٦) تنو د ټپی کیدو او د هستوګنی د یوه کور د وراپندوسبب شوی پدی جګړه کښ د طالبانو یوه مهم قوماندان مولوی جلال الدین حقانی د بی بی سی رادیو سره د یوی مرکی په ترڅ کی وویل : دوی پدی جګړه کی د پام وړ بریالیتوب ترلاسه کړی او دا

دخوست هوایی

اساس د نومړی ولایت هوائی ډګرچی د شوکاله راپدی خوا له فعالیت څخه لویدلی ؤ په دی وروستیو وختونوکی د طالبانو لخوا بیا فعال او د آریانا افغان هوایی شرکت الوتنو ته چمترشوی دی او په پام کی ده چی د آریانا الوتکی په اونۍ کی یو ځل د کابل نه خوست ته والوزی .

په افغانستان کی

هغه یوځل دپاکســــتان حکومت ته پیشنهاد وکړ چی افغان خاوری ته دی ددسیسه کارو عناصـرو دداخلیدو دمخنیوی پـــه خاطــر دافغانستان اوپاکستان سرحدونه وتړل شی. هغه ته وویل شول چی یوخودا سرحد ډیر اوږده دی اوبله داچی دغــه منطقه سخته اوغریزه ده له دی امله دسرحد بندول امکان نلری. البته کـــه افغانستان وغواړی چی دشوروی یرغ په مرسته له خپله اړخه سرحدبند کړی نوپاکستان پری هیڅ اعتراض نلری. نومړی سفیر چی داواوریدل نویه غمژنه لهجه له ځان سره وګوریده چی « هن ! .... داخوامکان نلری!!»

جګړه به ترهغې پوری دوام ولری چي دوستم او د هغه ملګری له مزار نه ا یستل شوی نه وی .مولوی جلال الدین حقانی وویل د دی لپاره چي ولسی خلك د جګړی له سیمو څخه ووزی ، د وی په جګړه کی لنډ توقف کړی همدارنګ مولوی حقانی وویل چي خلك د دوستم د ځواکونو له روش څخه په تنګ راغلی او په خپله هم له سیمی څخه و زی پداسی حال کی چي طالبان له خلکو سره ښه برخورد کوی ، موږ مو ورته برابر کړی دی ، او په عزت مو رخصت کړی دی.

دافغانســـتان دوینــش او

نماینده گان ځان بولي، دتاسف اوشرم خبره ده چي دوي دخپلوشخصي غرضونو دپاره روس ته پناه وروړي اودهغه نه کمك غواړي ترڅوخپل وړور طالب ووژني اوهمداراز دهندوانوته کمك غواړي ددي دواړو خواو یعني روس اوهند چي دافغانستان دله مینځه وړلو ائتلاف سره کړي و او دافغاني ټولنه یې چې یوه ترلي ټولنه ده ، ټوټې ټوټې کړه اونن ورځ دي ځاي ته رسیدلي یو چي وګړي مودناداري اوناتواني نه مري، د تردولو وسایل نه لرو، دخوړلومرادنه لرو، دهوسایني ځاي نه لرو، آواره ، بي کوره اوبیکاره یوځاي بل ځاي یودریل ورته ولاړیو، داجنایات بیاهم ورځې دهغو پلېټونه کمك غواړي کوم چي موږ پې په دې حال گرفتارکړي یو. نپوهیږم ددوي اسلامي اوافغاني همت اوغیرت څه شو !! ددي په ځاي چي په نره دروسانو نه دجنګ غرامت او اتلس لکوشهیدانو دوینو اودلکونو معیوبوکونډو یتیمانو وراتو وراتيو تاوان واخلي اوبین المللي محاکمونه ئي کش کړي، دوي ورځې سوال ترینه کوي ، زه دغه عمل ته هیڅ کلمه نشم پیداکولي چي استعمال یي کړم قضاوت یي ملت ته پرېښودل ښه دي چي هرڅه یي بولي . زه ددوي دغه عمل ددوي خساره بولم . قرآن حکیم هم داسي امرکوي : « ومن یتخذالشیطان ولیامـــن دون الله فقدخسـرخسرا نامبینا » (نساء - ۱۱۸)

دطالبانو په هکله باید ووایم چي دوي هم ښه لري اوهم دانتقادوړکارونه .

ښه یي دامنیت ټینګول اووارګیرنه ده . دانتقادوړتي هغه فرعي کارونه دي چي دوي داصلي کارونو پرځاي دهغوسرته رسولوته لیواله دي .

اساسي اواصلي کارونه لکه امنیت (چي داکارئي په ښه صورت کړي دي) دژوندانه امکانات اووسایل ، دکارونو پیداکول (په علمي اوفني طریقه) علم اوفن ته جدي توجه کول، اقتصادي بنسټ احیا کول چي دادخپرو عالمانو اوباتجربه اشخاصوپه واسطه ممکن کیداي شي .

ترڅنګه چي نن ورځ اقتصاد په هرڅه حاکم دي، که سیاست دي اقتصادي دي ، که قوت اواعتباردي اقتصادي دي، که علم اوفضل دي اوکه هوسائي ده دااقتصاد دلاري تامینیدلاي شي، نوځکه دي اصل ته جدي پاملرنه پکارده . مادخپل هیراد دااقتصاد دبیارغوني په باب پخوایوڅه لیکلي وو اودشهادت اخباریه (۹٤) ۲ شنبه داسد ۸ مه ګڼه کي نشر شوي هم دي، ځنا نظریات پـــه هغه مقاله کښي منعکس شوي دي .

ماسره یوغټ تشویـــش دطالبانو ترکنترول لاندي سیمرکي دبي وسلې کولو عملیه ؛ اودوسلو دزیرمي مسأله ده . په دي معني که دکوم تصادف اومختلفو ملحوظاتو په اثر دطالبانو واکداري ختمه اویاکمزوري شي اوددغو ولایتونو وګړي خلع سلاح وي نو دښمنانوته به لاس ترلي په لاس ورشي، نتیجه به ئي داوي چي دجهادنه بي برخه غلامي رسیدلي وي اویس .

دوسلو زیرمي نپوهیږم چیرته اوڅنګه شوي اوڅنګه کیږي ؛ زما په خیال که دهري سیمي خلکوته وسلي بیرته نه ورکول کیږي، لااقل په خپلوسیموکي خوئي باید ذخیره او دیپوکړي ترڅو دضرورت په وخت کښي لاس وژ ورسیدلي شي، په دي برخـــه کي دطالبانو دره‌بري مقام باید جدي توجـــه وکړي، ترڅو دایدنامي خداي مکره دوي ته وروغاري نه شي .